وړیا

د عوایدو
لوی
ریاست

## ۱۵ لارښود

# د مالیې وړ او نه وړ عواید



## سریزه

دا لارښود د میشتو افغانانو لپاره د مالیې وړ او نه وړ عواید تشریح کوي. د غیر میشتو اشخاصو د مالیې اړوند موضوع ګانو په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ۲۳ لارښود (د غیر میشتو اشخاصو د مالیې اړوند موضوع ګانې) ته مراجعه وکړئ.

د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له مخې د لاندې عوایدو څخه د عایداتو مالیه وضع کیږي:

- د میشتو او غیر میشتو ټولو حقیقي او حکمي اشخاصو د افغانستان د سرچینو له درکه لاسته راغلي عواید او
- د افغانستان د میشتو اشخاصو د افغاني یا بهرنیو سرچینو له درکه لاسته راغلي عواید د مالیاتو د قانون د ۲ مادې د حکمونو پربنسټ.

## د مالیې وړ عواید یعني څه؟

د مالیې وړ عواید عبارت دی د حقیقي او حکمي اشخاصو د عوایدو له مجموعي څخه چې په نغدي شکل، ملکیت یا خدمتونو بڼه د هر ډول مجازو معافیتونو او کسراتو له وضع کولو وروسته لاسته راځي. معافیتونه عبارت دي د مالیې نه وړو مبلغونو څخه. د وضع وړ مصارف عبارت دي له هغو مبلغونو څخه چې د عوایدو له مجموع څخه وضع کیږي لکه د تشبث د وضع وړ مصارف او د عوایدو نور مصارف. د وضع وړ مصارفو په اړه لازیاتو معلوماتو لپاره ۱۲ لارښود ( د تشبث د وضع وړ او نه وړ مصارف) ته مراجعه وکړئ.

## د مالیاتو په موخه میشت شخص څوک دی؟

حقیقي یا حکم شخص د لاندې شرایطو لاندې په افغانستان کې میشت پېژندل کیږي:

- د مالي کال په اوږدو کې د یاد شوي شخص اصلي کور په افغانستان کې وي، یا
- یاد شوی شخص یوه ۱۸۳ ورځنی موده او یا څو مودې په افغانستان کې تیرې کړې وي، یا
- یاد شوی شخص د افغانستان د دولت کارکوونکی وي او د مالي کال په اوږدو کې د دندې د اجرا لپاره د هیواد څخه بهر ګمارل شوی وي.

هر بل نهاد چې د مالي کال په اوږدو کې په افغانستان کې تاسیس شوی دي یا مرکزي اداره

ئي د مالي کال په اوږدو کې په افغانستان کې وه، په افغانستان کې میشت نهاد دی.

د حقیقي شخص اصلي استوګنځی د حقایقو او شرایطو د بررسۍ پر بنسټ تثبیتیږي. د دې په تثبیت کې چې ایا د پام وړ حقیقي شخص اصلي استوګنځی افغانستان دی که نه، لاندې عوامل باید په پام کې ونیول شي:

١. آیا شخص په افغانستان کې د کور خاوند یا کرایه اخیستونکی دی.
٢. آیا شخص په بل هیوا کې د کور خاوند یا کرایه اخیستونکی دی.
٣. هغه وختونه چې شخص په افغانستان او نورو هیوادونو کې تیر کړي دي
۴. د شخص د کورنۍ موقعیت، او
۵. په افغانستان کې د شخص د کور مالکیت موده او په یوه بل یا ډیرو هیوادونو کې د کور مالکیت موده

**یادونه**

د مالیاتي لارښودونو او فورمو د لاسته راوړلو په بدل او د مالیاتو د ارزونې، ترلاسه کونې او د قانون د پلي کونې د پروسو په هیڅ مرحله کې مالیې وزارت یا د عوایدو ریاست ته فیس یا حق الزحمه نه ورکول کیږي.

که چیرې مالیه ورکوونکی خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي نو د ١٣٨٧ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له مخې وربانډې جریمې وضع کیږي. دغه جریمه هغه وخت هم پلي کیږي که د مالیاتي اظهارلیک په موده کې هیڅ ډول مالیه هم شتون ونه لري. ددې لپاره چې د جریمې څخه مخنیوی شوی وي، مالیه ورکوونکي باید حتی د مالیاتو د نه شتون په صورت کې هم خپل مالیاتي اظهارلیکونه وړاندې کړي او په کې وښایي چې د ورکړې وړ مالیې شتون نه لري.

## د مالیې وړ عواید

### د حقیقي اشخاصو عواید

لاندې لاسته راوړل شوي عواید د عایداتو باندې مالیې تابع دي:

١. معاشونه، مزد، فیس او کمیشن.
٢. د سوداګریزو او صنعتي معاملو، او ساختماني فعالیتونو مجموعي عواید
٣. د منقول او غیر منقول ملکیت د پلور څخه لاسته راغلي عواید
۴. تکتانه، د ونډې ګټه، کرایه، حق الامتیاز، جایزې او مکافات، د پچې او بښنو له درکه عواید.
۵. د تضامني شرکت د عوایدو شریک ونډه لرونکی (سهام)
٦. د کار، پانګې او اقتصادي فعالیتونو څخه لاسته راغلي نور عواید
٧. نور حالات چې په قانون کې تصریح شوي دي.
٨. نور عواید چې په دې قانون کې ئې وړاندوینه نه ده شوې.

### معاشونه، حق الزحمه، فیسونه او کمیشن

معاشونه او حق الزحمه د کارکوونکو په واسطه د وړاندې شوو خدمتونو په بدل کې د لاسته راغلو مبلغونو څخه عبارت دي. په عمومي بڼه دغه ټولې ورکړې د مالیې تابع دي (ستاسې آمر ستاسې له معاشونو او حق الزحمه څخه چې تاسې ته درکول کیږي، مالیه وضع کوي او ستاسې په استازیتوب باندې ئې د دولت حساب ته انتقالوي).

که ستاسې یوائنی عایداتي سرچینه معاش یا حق الزحمه وي، نو مالیات ئې په موضوعي شکل تادیه شوي دي، په دې صورت کې تاسې یوه دنده لرئ او اړتیا نلرئ ترڅو مالیاتي اظهارلیک ډک کړئ.

فیسونه معمولاً د دندي پر بنسټ ورکول کیږي،
نه د کاري مهالونو پر بنسټ، د بیلګې په توګه یو
ډاکټر د یو روغتون لخوا استخدام کیږي او د هر
ناروغ د لیدني پر بنسټ ورته پیسې ورکول کیږي
نه د ګړی پر بنسټ.

کمیشن عبارت دی له هغو مبلغونو څخه چې
د معاش یا حق الزحمې سربیره یا پر ځای لاسته
راوړئ. کمیشن معمولاً ستاسې د پلور (فروش) د
فیصدۍ په توګه ورکول کیږي

## د تشبث یا سوداګریز فعالیت عواید

د تشبث په فعالیتونو کې بوخت وګړي څه د
خپلواک مسلکي شخص (ډاکټر، وکیل، محاسب
او داسې نور) په بڼه، یا انفرادي سوداګر (د
انفرادي تشبث خاوند لکه دوکاندار، خیاط،
د جنسونو واردوونکي، د سفر د نماینده ګیو
خاوند، او داسې نور اشخاص چې د سهامي یا
محدودالمسؤلیت شرکت تر نامه لاندې ئې کوم
نهاد نه وي تاسیس کړی) د خپل تشبث د خالصو
عوایدو څخه د مالیې په ورکړه مکلف دي. خالص
عواید د تشبث د مجموعي عوایدو منفي د وضع
وړ مصارفو څخه عبارت دي.

## د شتمنیو د پلور له درکه ګټه

هغه ګټه چې د پانګې د پلور یا تبادلې یا انتقال یا
په یوه سوداګرۍ یا تشبث کې د پانګه اچونې څخه
لاسته راځي، عواید دي او د مالیه ورکوونکي د
نغدي بیې او د تمام شوې بیې تر مینځ توپیر (یا د
استهلاک او د پلور اړوند مصارفو څخه وروسته)
هغه عواید دي چې باید رپوټ ئې ورکړل شي. که
چیرې مالیه ورکوونکي ته د نغدي بیې او د تمام
شوې بیې (د مصارفو وروسته) ضرر اوسي، نو په
دې صورت کې هم باید رپوټ ورکړل شي.

پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له مخې
همدارنګه د منقول او غیر منقول شتمنۍ پر پلور
یا د ملکیت انتقال باندې ۱٪ ثابته مالیه تطبیق
کیږي. که چیرې د شتمنۍ پلورل او یا د هغې د
ملکیت انتقال د حکمي شخص لخوا ترسره کیږي
نو ددغې ثابتې مالیې په بدل کې د کلني عایداتو
د مالیې پر مهال مجرايي ورکول کیږي. که چیرې
د شتمنۍ پلورل د انفرادي شخص لخوا ترسره
کیږي نو په دې صورت کې دغه ثابته مالیه د کلني
عایداتو د مالیې په توګه پلې کیږي.

تکتانه، د ونډې ګټه، کرایه، حق الامتیاز، جایزې
او بخششې

د تکتاني عواید عبارت دي د پورونو د مبلغ له
ګټې څخه.

د ونډې ګټه عبارت ده له هر ډول عوایدي ویش څخه
چې د شرکت لخوا په پولي، شتمنۍ توګه یا د هغوی
د ونډې متناسب هر ډول ګټه چې ونډه لرونکو ته تر
سره کیږي او لاندې ټکي پکې شاملیږي:

1. هر ډول ملموسه او غیر ملموسه شتمنۍ
2. په شرکت کې ونډه
3. د شرکت څخه په هر ډول پیرودنه کې تخفیف
4. ونډه لرونکو ته پور
5. د شرکت د هر ډول شتمنۍ څخه استفاده

د امتیازونو د مالیې وړ برخه عبارت ده په بازار
کې د جنس د مناسب ارزښت څخه (په بازار کې به
ارزښت څه وي) او د جنس تمام شوې بیې څخه.

مثلاً: د ABC سهامي شرکت الکترونیکي وسایل
پلوري. د ABC سهامي شرکت کیدای شي په نیغه
توګه وسایل د شرکت څخه د پرچون بیې (په بازار
کې د جنس د ارزښت څخه) له ۴۰ په سلو کې

تحفیف سره ورپیري. دغه امتیاز عامو خلکو ته شتون نه لري. احمد چې یو ونډه لرونکی دی یوه وسیله په ۲۰۰۰ افغانۍ پیري. د هماغه جنس ارزښت په بازار کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ ده. احمد مکلف دی تر څو ۴۰۰۰ افغانۍ د امتیاز په نامه په اظهارنامه کې درج کړي (۱۰۰۰۰ – ۲۰۰۰ = ۴۰۰۰)

هغه عواید چې تاسې ئې د خپلې شتمنی د کرایې له درکه لاسته راوړئ د موضوعي مالیې تابع دي. د کرایې ورکړې د موضوعي مالیې تابع دي. د کرایو د ورکړو د موضوعي مالیو په اړه د لاډیرو معلوماتو لپاره ۰۱ لارښود ته ، د کرایې پر خدمتونو موضوعي مالیه، ته مراجعه وکړئ.

حق الامتیازونه عبارت له هغو مبلغونو څخه دي چې تاسې ئې د هغو جنسونو چې تاسې تولید کړي دي لکه کتابونه، فلمونه، موسیقي او داسې نورو له پیرودلو یا استفادې څخه لاسته راوړئ. حق الامتیازونه همدارنګه د مالیې تابع دي.

جایزې، ډالۍ، (په نغدي او شتمنی بڼه) او بخششي همدارازد مالیې تابع دي.

د تضامني شرکت د عوایدو توزیعي ونډه لرونکی

که چیرې تاسې په یو تضامني شرکت کې شریک یاست، تاسې ته د شرکت څخه ستاسې د ونډې اړوند د شرکت د خالصو عوایدو او مصارفو یو سند صادریږي. د ناخالصو عوایدو توپیر منفي د مجرایې وړ مصارف مساوي ستاسې د ونډې پر کچه باندې دی. تاسې باید دغه مبلغ په مالیاتي اظهارلیک کې په خپل مجموعي عوایدو کې درج کړئ.

## د حکمي اشخاصو عواید

د حکمي اشخاصو د انفرادي اشخاصو په څیر د عوایدو د ورته ډولونو څخه د عایداتو د مالیې تابع دي خو پرته د معاش او مزد.

## د مالیې نه وړ عواید

لاندې ترلاسه شوی عواید د عایداتو باندې مالیې تابع نه ګرځي، او د حقیقي او حکمي اشخاصو په مالیاتي اظهارلیکونو کې نه شاملیږي:

**یادونه**

د مالیاتي لارښودونو او فورمو د لاسته راوړلو په بدل او د مالیاتو د ارزونې، ترلاسه کونې او د قانون د پلي کونې د پروسو په هیڅ مرحله کې مالیې وزارت یا د عوایدو ریاست ته فیس یا حق الزحمه نه ورکول کیږي.

که چیرې مالیه ورکوونکی خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي نو د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له مخې وړباندې جریمې وضع کیږي. دغه جریمه هغه وخت هم پلي کیږي که د مالیاتي اظهارلیک په موده کې هیڅ ډول مالیه هم شتون ونه لري. ددې لپاره چې د جریمې څخه مخنیوی شوی وي، مالیه ورکوونکي باید حتی د مالیاتو د نه شتون په صورت کې هم خپل مالیاتي اظهارلیکونه وړاندې کړي او په کې وښایي چې د ورکړې وړ مالیې شتون نه لري.

۱. د دولت له لوري بخششي، ډالۍ، انعام، جایزې او مکافات
۲. د بهرنیو دولتونو، نړیوالو موسسویا غیر انتفاعي موسسو لخوا د پوهنیزو، هنري، ادبي، ټولنیزې پراختیا او نړیوال تفاهم د فعالیتونو د تقدیر په موخه بخششي، ډالۍ، انعامونه، جایزې او مکافات .
۳. سکالرشپ، فیلوشپ او د فني او مسلکي ښوونو په موخه نورې مرستې
۴. د روغتیا، تصادم او بې روزګارۍ امتیازات
۵. د ژوند د بیمې عاید چې د مړینې وروسته ورکول کیږي.

۶. د ټپي کیدو، ناروغۍ یا د حیثیت د اعادې په پایله کې د خسارې جبران
۷. استقراض
۸. د شرکتونو لخوا د ونډې او پور د اسنادو د صدور له درکه ترلاسه شوی عواید.
۹. د داخلي سهامي شرکتونو او نورو حکمي شخصیتونو د یووالي له لارې د شتمنیو ترلاسه کیدل
۱۰. د داین لخوا د پوروړي د حقوقو د سلب له لارې د منقولو او غیر منقولو شتمنیو ترلاسه کیدل
۱۱. د پوروړو څخه د اصلي پور ترلاسه کول
۱۲. د دولتي او ښاروالیو د اسنادو ګټه.
۱۳. پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د احکامو سره سم نور ترلاسه شوي مبلغونه.

### یادونه

که چیرې تاسې د خدمتونو یا شتمنۍ (منقول او غیر منقول) په شکل کې عاید ترلاسه کړئ، تاسې باید د خدمتونو یا شتمنیو له درکه ترلاسه شوی عاید د ازاد بازار د ارزښت سره سم د ترلاسه کیدو په نیټه کې رپوټ ورکړئ.

بیلګه: عزیز یو ترکاڼ دی چې د غاښو یو ډاکټر ته ئې څه کار ترسره کړی دی. په بدل کې ئې ډاکټر د نغدو پیسو پر ځای د عزیز دوه کوچنیانو ته د غاښونو د کتنو د ترسره کوونو هوکړه کړې ده. یوې غاښو کتنې بیه معمولا ۱۰۰۰۰ افغانۍ ده. عزیز باید په خپل اظهارلیک کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ عاید وښئي (۲x۵۰۰۰=۱۰۰۰۰ افغانۍ).

د دولت بخششي، ډالۍ، انعامونه، جایزې او مکافات، د عادي دندې په اوږدو کې کارکوونکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په وړاندې ورکړې په بر کې نه نیسي. بخششي، ډالۍ، انعام، جایزې او مکافات په ځانګړو شرایطو او حالاتو کې چې د شخص د وړتیا د ستاینې په صورت کې ورکول کیږي. د یادونې وړ ده چې دا پیسې د هڅو یا ستاینو پورې اړه لري، له دې کبله د مالیې تابع نه دي. کلنۍ بخششي، اضافه کاري، د مصارفو جبران او نور امتیازات چې په غیر انتخابي توګه ورکول کیږي، د مالیې وړ عوایدو یوه برخه ګڼل کیږي.

لومړۍ بیلګه: یوه کورنۍ له یوې طبیعي فاجعې سره مخ کیږي. یاده شوې کورنۍ ۵۰۰۰ افغانۍ له دولت څخه د ډالۍ په توګه ترلاسه کوي. دغه مبلغ د کورنۍ هیڅ غړي ته د مالیې وړ نه دي.

دویمه بیلګه: د طب یو ډاکټر خپل عمر د یو طبي کلینیک د تاسیس لپاره سره له طبي خدمتونو په ځو ټولنو کې وقف کوي. دولت یاد شوی ډاکټر ستائي او ورته تصدیق او نغدي انعامات ورکوي. داسې مادي ګټه له مالیې معاف ده.

دریمه بیلګه: د نوبل جایزې عاید یو انعام دی چې د یوې نړیوالې او غیر انتفاعي موسسې لخوا ورکول کیږي، یاده شوې جایزه له مالیې معاف ده.

د سکالرشپ، فیلوشپ، یا د مسلکي او فني زده کړو په موخه بخششي له مالیې معاف دي. دغه عواید د سفري پیسې، استوګنه، د زده کړې د پیسو جبران، فیس، د کتابونو مصارف او نور مصارف په بر کې نیسي.

مثلاً: یو محصل سکالرشپ چې د سفر مصارف، هوټل، مسکن، تدریس، فیس، کتابونه، روغتیائي او داسې نور جمع د جامو مصارف، خواړه، شخصي مصارف چې مجموعا په میاشت کې ۵۰۰۰ افغانیو ته رسیږي، په بر

کې لري، ترلاسه کوي. ټول دغه امتیازات له مالیې معاف دي.

که چیرې د محصل ټول مصارف دولت پر غاړه واخلي . دا مصارف همداراز له مالیې معاف دي. که څه هم محصل د دولت د کارکوونکي په توګه خپل ټول معاش یا یوه برخه ئې د دولت له سرچینې څخه ترلاسه کړي، په هغه صورت کې د یاد شوی شخص معاش د مالیې تابع دی.

د بیمې شرکت څخه ترلاسه شوي عواید د ضرر سره مخ کیدو ، ناروغۍ یا کوم مصیبت او داسې نورو په صورت کې. زیانمن شخص د بیمه شوو مواد په وړاندې د مالیې تابع نه ګرځي.

لومړۍ بیلګه: یو شخص خپل ځان د بیمې په یو شرکت کې د ناروغۍ او ټپي کیدو په وړاندې بیمه کوي چې حق البیمه ئې په میاشتنې توګه شرکت ته ورکوي. یاد شوی شخص په یوه پیښه کې معیوب کیږي چې په پایله کې یې شخص خپل عواید له لاسه ورکوي او مصارف ګالي. په دې پیښه کې یاد شوی شخص معیوبیږي. د بیمې د پالیسۍ لاندې یاد شوي زیانمن شخص ته ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ د ضرر د جبران په توګه ورکول کیږي. دا رقم همداراز د مالیې تابع نه ګرځي.

دویمه بیلګه: یو شخص د دندې د اجرا په اوږدو کې ټپي کیږي. د شرکت اداره ټولو کارکوونکو ته د بیمې یو رنګ پالیسي لري. د بیمې شرکت ټپي شخص ته د ضرر د جبران په موخه ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. دا عواید همداراز له مالیې معاف دي سره له دې چې یاد شوی کارکوونکی د بیمې شرکت ته هیڅ ډول حق البیمه نه ورکوي.

## د مالیاتو اړوند مالومات

د عوایدو لوی ریاست اداري او مستوفیتونه مالیه ورکوونکو ته په وړیا توګه فورمې، لارښودونه او لارښوونې وړاندې کوي چې دا مواد په چاپ شوې او همداراز له یوه نوي ویب پاڼې http://www.ard.gov.af څخه د رانښکته کیدو وړ هم ترلاسه کیدای شي. یاده ویب پاڼه د عوایدو د لوی ریاست او مستوفیتونو موقعیتونه، د اړیکو شمیرې او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندې کوي. مالیه ورکوونکي همداراز کولای شي نور ګټور مالومات لکه عامې خبرتیاوې او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي مالیې په اړه پوښتنې او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون، او تعلیماتنامه ترلاسه کړي. یاده تعلیماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه شیړي او د ګټورو بیلګو په لرلو سره مالیه ورکوونکو ته لا ډیره آسانتیا په برخه کوي.

